# زموږ پر وړاندې د امریکا د جګړه‌ییز منطق یو اړخ!



**خبر:**

د پکتیا ولایت مرکز ګردېز ښار کې دوو وسله‌والو د جمعې د لمانځه پر مهال د شیعه ګانو پر جومات لومړی ډزې وکړې او بیا یې ځانمرګې بریدونه وکړل، چې له امله یې ۳۴ کسان مړه او شاوخوا ۹۴ نور ټپیان شول. جمهوري ریاست په دې اړه د یوې اعلامیې په خپرولو سره ویلي: په افغانستان کې د مذهبي اقلیتونو پر وړاندې تروریستي حملې د افغانانو تر منځ مذهبي تفرقه نشي ایجادولای. اعلامیه زیاتوي: "په ټوله اسلامي نړۍ کې د افغانانو مذهبي یووالی او زغم بې‌ساري دی، چې همداسې به دوام وکړي."

**تبصره:**

افغانستان ته د امریکا او ناټو له راتګ مخکې یوه ورځ هم افغانانو د مذهب له مخې یو پر بل برید نه دی کړی. مګر دا دی وروسته له هغې چې امریکایانو د ستراتیژیکو او امنیتي هوکړه لیکونو له لارې ځان ته په افغانستان کې د اوږدمهاله شتون په موخه پوځي اډې ترلاسه کړې، په منظم ډول شیعه، سک او هندو لږکي تر سختو وحشیانه او خونړیو بریدونو لاندې راغلي دي. د دغو بریدونو پړه په ډېر مرموز او غیر دقیق ډول د افغان دولت او رسنیو له خوا د داعش پر جنګیالیو اچول کېږي او سیاسي پایلې یې په غیر مستقیم ډول د جمهوري ریاست په ګډون د لوړ پوړو چارواکو له لوري ترویجېږي. په دې اړه اشرف غني ربښتیا ویلي چې "په ټوله اسلامي نړۍ کې د افغانانو مذهبي یووالی او زغم بې‌ساري دی" په داسې حال کې چې نوموړی ستر دروغجن او لوی خاین دی.

امریکا د افغانستان ډېری قومي، سیاسي او جهادي مشران یا له منځه یووړل او یا یې سخت سپک، ذلیل او بې همته کړل. هغوی د خپلو ځواکونو په واسطه سخت وحشتونه ترسره کړل. د وحشت د دوام په موخه یې ځانګړي افغان ځواکونه هم وروزل چې په جګړه‌ییز وحشت کې تر امریکایانو کم نه دي. همداراز یې له ځینو غیر سیاسي اسلامپالو هم کار واخیست، ترڅو د تروریزم په پلمه اسلام او مسلمانان وځپي، چې یو له هغو څخه داعش دی.

امریکا په افغانستان کې د داعش له نامه څو اړخیزه ګټه پورته کوي. له یوې خوا د سیمې په کچه په سوریه کې د روسیې او ایران د جنایتونو د انتقام په پلمه د داعش له تروریستي برنډ څخه د روسیې او ایران پر وړاندې د نظامي فشار په توګه کار اخلي. له بل پلوه تر همدغه نامه لاندې د شیعه، سک او هندو لږکیو وژنې ته دوام ورکوي، ترڅو افغانان په نوې کورنۍ مذهبي جګړه اخته کړي. دې ته ورته د طالبانو تحریک هم صوفي مزاجه او بدعتي ډله بولي او پر وړاندې یې د جګړې بېلابېلې هڅې کوي.

د دغې ناولې امریکایي لوبې دا اړخونه په سیمه‌ییزه او کورنۍ کچه بشپړ درک شوي دي. له همدې امله په وار-وار روسیې د افغان دولت یو شمېر امنیتي چارواکي په دې تورن کړي، چې د افغانستان په شمال کې د ځانګړو چورلکو په واسطه د داعش جنګیالي ځای پر ځای کوي. همداراز ایران په وار- وار د شیعه لږکیو پر وړاندې د داعش د سختو تروریستي بریدونو خبرداری ورکړی او په افغانستان کې هم ټول عامه فکر په دې باور دی چې داعش د امریکا یوه پروژه ده، چې د افغان دولت د امنیتي ارګانونو او د امریکا د کرایي قاتلینو له خوا په ګډه د بې دندو، ساده او احساساتي مسلمانانو په مټ پلې کېږي.

امریکا هڅه کوله چې د داعش پروژه د افغانستان له مشرقي څخه پیل او د روسیې د پولې په اوږدو کې د هېواد په شمال کې متمرکزه کړي. مګر مخکې له هغې چې داعش د افغانستان په شمال کې ځان ته ځای ومومي، طالبانو د افغانستان د شمالي ولایتونو ګڼې برخې تر خپلې ولکې لاندې راوستې او د افغانستان په زابل او ننګرهار ولایتونو کې یې د داعش پر وړاندې سخت نظامي عملیات ترسره کړل؛ چې ډېری وخت به افغان دولت له داعش سره د طالبانو د جګړې پرمهال د طالبانو پر مورچلو درنې بمبارۍ کولې او د داعش د ژغورلو په موخه به یې د جګړې معادله بدلوله.

وروسته له هغې چې قطبي خرس له خپل سیاسي ګنګسیت څخه لږ را ویښ شو او  د امریکا په واسطه د افغانستان له پولو څخه د منځنۍ آسیا د هېوادونو د نا آرامولو تهدید یې احساس کړ، نو یو شمېر نوي روسي ځواکونه یې په تاجکستان کې مېشت او پوځي مانورونه یې پیل کړل. تر هغه چې داعش څو اونۍ وړاندې په تاجکستان کې یو شمېر غربي سیلانیلان تر برید لاندې راوستل، چې څلور تنه یې ووژل شول. حال دا چې روسیه اصلاً د دې وړتیا او جرئت نه لري چې ځان د افغانستان پر پوله له امریکا او یا د هغې له نیابتي جنګیالیو سره مخ کړي، له همدې امله ټول سیاسي، تبلیغاتي او نظامي فعالیتونه یې د ځان پر دفاع متمرکز دي. له همدې امله تاجکستاني مقاماتو د داعش د برید پړه د تاجکستان د اسلامي نهضت پر ګوند ورواچوله. له دې څو ورځې وروسته طالب ځواکونو د افغانستان په شمال کې د داعش جنګیالیو په یوازنۍ هسته د جوزجان ولایت پر درزاب ولسوالۍ سخت پیاوړی برید پیل کړ، چې په ترڅ کې یې یو ځل بیا افغان دولت پر طالب ځواکونو درنې بمبارۍ پیل او د داعش وسله‌وال یې د پوځي چورلکو له لارې د تسلیم شوو جنګیالیو په پلمه د جګړې له ډګر څخه وژغورل. دا ټول په افغانستان کې د نیابتي جګړې پر بېلابېلو ابعادو دلالت کوي.

مګر هغه څه چې موږ افغان او د نړۍ مسلمانان باید را هیښ کړي، هغه دا دي چې امریکا زموږ د اسلامي خاورې په ګوټ – ګوټ کې د لاسپوڅو او خاینو چارواکو په واسطه د انساني ژوند په بېلابېلو برخو کې بېلابېل پروګرامونه روان کړي دي، ترڅو موږ په خپل منځ کې سره بوخت وساتي او زموږ له جغرافیوي موقعیت او ځمکنیو زېرمو څخه په پوره ډاډ ګټه پورته کړي. امریکا زموږ له وینې او پوست څخه یو شمېر خاین انسانان ټاکي او دغه پروګرامونه ورباندې پلي کوي. هغوی اصلا زموږ د ښځو، ماشومانو او سپین ږیرو د تلفاتو په اړه اندېښنه نه لري. ځکه هغوی ځانونه پرمختللي او موږ وروسته پاتې او د ځانونو (پرمخ تللو انسانانو) د اوږو بار بولي، نو جګړه‌ییز منطق یې دا ایجابوي چې د درېیمې نړۍ وروسته

پاتې، وحشي او «ترورېست» بشر باید همداسې محروم، بې کوره، بې اوره او په سخت وحشت سره ووژل شي. د دوی دغه جګړه‌ییز منطق په ګڼو فکري او سیاسي اثارو کې بربنډ ښکاري او عملاً په اسلامي خاورو کې پلی کېږي.

له امریکا مخکې هم داسې بشري نظامونه وو، چې د نړۍ د بېلابېلو ولسونو پر وړاندې یې له دا ډول جګړه‌ییز منطق څخه کار اخیست. یو له هغو څخه فرعون و، چې خپل قوم یې ذلیل، جاهل او ناپوه ساته، ترڅو د ده خدایي او واکمني ومني؛ مګر د بنو اسرائیلو له ابتلا (آزموینې) وروسته یې په سیند لاهو کړ. اوس هم دغه فرعوني امریکا، د هغې دجالي لښکرې، کرایي قاتلین، استخبارات او زموږ پر خاورو واکمن خاین او لاسپوڅي چارواکي ټول هڅه کوي، چې موږ جاهل سپک او ذلیل وساتي، ترڅو د ژوند په ټولو چارو کې د هغوی پیروي وکړو او همدا زموږ ابتلا (آزموینه) ده، ګني الله جل جلاله یې د سترګو په رپ کې د فرعون په څېر هلاکولی شي.

**نو اې مسلمانانو را پاڅېږئ!** د فرعون پر وړاندې د موسوي انقلاب څخه عبرت واخلئ او د بنو اسرائیلو چمونه پرېږدئ. په نبوي منهج سره مبارزه وکړئ، ترڅو راشده خلافت تاسیس او د تل لپاره دغه کافر یرغلګر او ښکېلاکګر مات کړئ، چې له هغې وروسته به د سیاست او جګړې ابتکار له تاسو سره وي او تر کوره-کوره به یې تعقیب او ولسونه به یې د استعمار پر ځای د اسلام په مبارک دین مشرف کړئ.

﴿**فَاسْتَخَفَّ قَوْمَهُ فَأَطَاعُوهُ إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمًا فَاسِقِينَ**﴾ [الزخرف: ٥٤]

( فرعون د خپلې سرکشۍ د دوام په موخه) خپل قوم سپک و ذلیل کړ (دوی یې د فکري او سیاسي رشد په ټیټه کچه کې وساتل) او هغوی هم د ده پیروي وکړه، هغوی فاسق قوم و!

**راپاڅېږئ! او دغه فرصت له لاسه مه ورکوئ! ګني موږ به هم د الله له خوا فاسق قوم وګڼل شو!**

**سیف الله مستنیر**